**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

**میانمار (برما)**

**پوښتنه:**

د مهربانی له مخې د میانمار (برما) د سیاسي وضعیت او هلته د مسلمانانو ځورونې په تړاو معلومات راکړه او همدا رنګه په دې تړاو سیمه ییز او نړیوال دریځونه څه دي؟ ستاسو څخه ډېره مننه.

**ځواب:**

د دې موضوع په تړاو لازم معلومات په لاندې ډول دي:

۱- د برما هیواد نفوس د ۲۰٪ مسلمانانو په ګډون ۵۰ مېلیونه دی. مسلمانان په پلازمینه رنګون، مندلي او اراکان ولایت کې مېشت دي. ۷۰٪ اوسېدونکي یې بودایان او پاتې نور هندوان، عیسویان او د نورو مذهبونو پیروان دي. که څه هم برما ته د ۴٪ مسلمانانو ټاټوبي په سترګه کتل کېږي او پاتې نور مسلمانان بهرنیان ګڼل کېږي. له همدې امله د برما حکومت د هغوی د شړلو هڅه کوي او هغوی ته تابعیت نه ورکوي او نه هغوی ته حقوق ورکوي. بودایان د رژیم په ملتیا پر هغوی د مرګ تر بریده بریدونه کوي او اړباسي یې چې کډوال شي.

۲- تاریخ پوهان لیکي چې اسلام په ۷۸۸ هجري کې د خلیفه هارون الرشید په زمانه کې یاد هیواد ته تللی دی، اسلامي خلافت د ډېرو پیړیو راهیسې په نړیواله کچه لومړی درجه دولت و او په نړیوالو معضلو کې یې وروستی پرېکړه کوله. کله چې برمایانو د اسلام عظمت، حقیقت او عدالت ولید، اسلام په ټوله برما کې خپور شو. مسلمانانو پر ارکان ولایت له ۱۴۳۰ او ۱۷۸۴ هجري کلونو ترمنځ تر درې نیمو پیړیو زیاته واکمني کړې ده. په همدغه کال کفار د یاد ولایت پر ضد سره یوځای شوه او په پرله پسې ډول یې هغه سیمه اشغال کړه، ګډوډي یې رامنځ ته کړه، مسلمانان په ځانګړي ډول علما او دعوتګران یې ووژل، د هغوی وینه یې توی کړه، د هغوی شتمني یې لوټ او تالان کړه او له بودایې جهالت څخه را پیدا شوي کرکې او تعصب له امله یې د مسجدونو او ښونځیو سبک ړنګ کړ.

۳- هلته په سیمه کې د برتانیې او فرانسې استعماري ویش او سیالي روانه وه. برتانویانو په ۱۸۲۴ هـ. ق کې برما اشغال کړه، په داسې حال کې چې فرانسې په ګاونډ کې لاوس اشغال کړ. برتانیې په ۱۹۷۳ م کال کې برما د برتانوي – هند له حکومت څخه بېله کړه او هغه یې برتانوي مستعمره وګرځوله چې برتانوي-برما حکومت تر نامه لاندې یې اداره کوله او د اراکان ولایت یې د بودایانو په مټ د یاد حکومت ګوډاګی کړ.

۴- په ۱۹۴۰ م کال د دوېمې نړیوالې جګړې په ترځ کې د «دېرش ملګري- د برما خپلواک پوځ» په نامه یو حرکت په برما کې رامنځ ته شو. یاد حرکت د برما د بړشو تنو وګړو څخه جوړ، چې په جاپان کې روزنه لیدلې وه او ژمنه یې کړې وه چې برتانوي نیواکګر به له برما څخه شړي. دوی له جاپاني نیواکګرو سره مله په ۱۹۴۱ یاد هیواد ته دننه شوه. په هغه وخت کې برما د برتانیې او جاپان ترمنځ د مخامخ کېدو کرښه وه، تر هغه چې د دوېمې نړیوالې

جگړې په پای ۱۹۴۵ م کې جاپان ماته وخوړه. برتانيې يو ځلې بيا د برما استعمار ته دوام ورکړ. په ۱۹۴۲ م کې مسلمانان د بودايانو په لاس قتل عام شوه چې شمېره يې زرو تنو ته رسېده او په سل گونو زرو نور له هيواده وتو ته اړ شوه. په ۱۹۴۸ م کې برتانيې برما ته رسمي خپلواکي ورکړه او په ۱۹۴۷ م کې له خپلواکۍ يو کال مخکې د ازادۍ ورکولو په پار يو کنفرانس جوړ کړ او په هيواد کې ټولو ډلو او توکمونو ته په کنفرانس  کې د گډون بلنه ورکړه، خو مسلمانان يې ترې منعه کړه. برتانيې په کنفرانس کې يو سند وړاندې کړ چې له مخې به يې هرې ډلې او توکم ته د خپلواکۍ اخيستلو په درشل کې د لسو کلونو موده کې حقونه ورکول کېږي. که څه هم برمايي حکومت هغه پلی نکړ او دمسلمانانو ځورولو ته يې دوام ورکړ.

۵- په ۱۹٦۲ م کال کې د نظامي جنرال ني وين تر مشرۍ لاندې کودتا وشوه. نوموړي د قانون او نظم ستنولو لپاره يوه نظامي شورا د دولتي شورا تر نامه لاندې جوړه کړه او تر ۱۹۸۸ م پورې يې  په مستقيم ډول خپله هيواد اداره کاوه او ياده شورا د نوموړي تر مشرۍ لاندې تر ۱۹۹۷ پورې پاتې شوه. په ۱۹۹۰ م کال کې ټاکنې ترسره شوې او اپوزيسيون ملي ديموکراتيک گوند رايې په اکثريت سره وگټلې. خو پوځي حکومت د نوي اساسي قانون تر جوړېدو پورې واک انتقال نکړ او  ۱۹۹۳ م پورې پر له پسې ناستې ترسره شوې چې نوی اساسي قانون جوړ کړي. تر کودتا وروسته مسلمانان د متعصب بودايي نظامي دولت له لوري سخت وځورېدله چې تر درو زرو زيات مسلمانان بنگله ديش ته په جبري توگه کډوال شوه. د ملگرو ملتونو گډوالو اداري شمېرو له مخې، تر نيم مېليون زيات مسلمانان په ۱۹۷۸ م کال کې له هيواد څخه وشړل شوه چې له ډلې يې تر څلويښت زرو زيات د بوډاگانو، ښځو او ماشومانو په گډون د سختو تېل شويو حالاتو له امله مړه شوه. په ۱۹۸۸ م کال کې تر ۱۵۰ زرو زيات مسلمانان بهر ته کډوال شوه او تر نيم مېليون زيات مسلمانان له هيواد څخه کډوالۍ او جبري ايستلو ته مجبور شوه، ځکه چې هغوی د مخالف گوند ملاتړ کړی وو او هغه گوند په ۱۹۹۰ م کال کې اکثريت رايې گټلې وې. حکومت مسلمانانو ته د پرديو په سترگه گوري، نه د خپل هيواد د وگړو په توگه، د هغوی ماشومان له زدکړو او تر دېرش کلنې مخکې له واده کولو بې برخې کوي. حکومت پر هغوی باندې د درو کلونو لپاره د واده کولو بنديز لگوي تر څو د هغوی شمېر کم شي  او داسې نور ډېر ناوړه مقررات يې پر وړاندې وضع کوي. په ۱۹۸۹ م کال کې حکومت خپل انگريزي نوم برما په ميانمار واړوه. ځينې هيوادونه دا وروستی نوم په رسميت پېژني، په داسې حال کې چې ځينې نور بيا لومړی نوم د ياد هيواد لپاره په رسميت پېژني.

٦- ځينې وخت د انگريزانو مستقيم ملاتړ په مټ د برما پوځ هغه هيواد اداره کاوه او ځينې وخت بيا په هند کې د انگريزانو د مزدور په مټ برما اداره کوله. په برما/ميانمار کې شته رژيم کمونيستانو ته نژدې ښوول کېده تر څو د روسيې او چين ملاتړ ترلاسه کړي په داسې حال کې ياد رژيم خپل واقعيت پټ کړی و، لکه په عربي نړۍ کې چې ځينې رژيمونه ځان امريکا او برتانيې ته وفادار ښيي خو خپل دغه واقعيت پټوي، تر څو له کمونيستي هيوادونو په ځانگړي ډول روسيې او چين سره ښې اړيکې وپالي. د هند ملاتړ د برما له نظامي رژيم او له هغه سره نژدې همکاري په مخکنيو وختونو کې  امريکا تر نيوکې لاندې راغلي وې. د فرانسې خبري اژانس راپور له مخې،

د هند لومړی وزیر منموهن سینګ ۲۰۱۲/۵/۲۸ م کې له برما څخه لیدنه وکړه او یو شمېر تړونونه یې ورسره لاسلیک کړه او ویې ویل چې هند د نویمو کلونو په وروستیو لسیزه کې د برما له نظامي شورا سره ښې اړیکې جوړې کړي وې په ځانګړي ډول په امنیتي او انرژي سکتورونو کې. په ۲۰۱۰ م کال کې واشینګټن په برما کې د بشري حقونو سرغړونې په تړاو د هند چوپتیا وغندله. ان ان سان سوچي چې د خپلو زده کړو یوه برخه یې په هند کې بشپړه کړې ده، هغه وخت چې د هغې مور په هند کې سفیره وه، د نظامي رژیم څخه د هند ملاتړ په تړاو یې اندېښنه څرګنده کړې وه. په نومبر ۲۰۰۷ م کې، ځینې خبري اژانسونو د واشنګټن هغې غوښتنې ته اشاره وکړه چې له هند او چین څخه غوښتنه کړې وه چې د برما نظامي رژیم ته د وسلو چمتو کولو څخه دې لاس واخلي. په برما کې نظامي رژیم چین ته په بنګال خلیج او هند سمندر کې بندرونه ورکړي دي، تر څو د امریکا د نظامي برید پر وړاندې د چین له ملاتړ څخه برخمن وي او همدا رنګه د چین لپاره هم په برما کې د هند لور ته بندر مهم دی. هند په شمالي ختیځ کې له چین سره دوه زره کیلومتره ګډه پوله لري او هند هم له برما سره په شمال لوېدیځ کې پوله لري چې هند برتانوي حکومت په هغه وخت کې برما له همدې پولې له لارې اداره کوله. کله چې برتانیه په رسمي توګه له برما ولاړه، نو هند د برتانیې د ځای ناستي په توګه برما تر خپل ساتنې او ملاتړ لاندې راوسته .

۷- امریکا د نظامي رژیم پر ضد په برما کې له عامه رایې څخه کار واخیسته او د خلکو پام یې مخالفي مشرې انګ سان سوچي ته واړوه، تر هغه وخته چې نوموړې په ۲۰۱۰ کې له زندان څخه خوشي کېدله. وروسته یې پر نظامي شورا فشار راوړ او عامه رایه یې د نظامي شورا پر ضد وکاروله، تر څو نظامي شورا لغوه شي او واک ملکي حکومت ته انتقال شي. خو برتانیې له هند سره یوځای په هوښیارۍ سره موضوع څارله. هغوی پر شورا د عمومي ټاکنو ږغ وکړ، له هغې طریقې یې کار واخیست چې هغوی پکې ښه مهارت درلود، نو په ۲۰۱۰ کې ټاکنې ترسره شوې او د پیوستون او پرمختیا ګوند چې پوځ پورې اړوند دی ۸۰٪ چوکۍ وګټلې. نظامي شورا لغوه شوه او واک ملکي ادارې ته انتقال شو. د ملکي ادارو مشران پخواني تقاعد شوي جنرالان دي چې مشري یې تین سین کوي چې په ۲۰۱۱ مارچ کې دواک پر ګدۍ کېناست.

۸- امریکا تراوسه پورې هم پر برمایي رژیم باندې فشار راوړي، ترڅو د متقاعدو جنرالانو رژیم نسکور او مخالف ګوند واک ته ورسوي، د ان سانګ سوچي او د هغې د ملي دیموکراتیک ګوند بشپړ ملاتړ ډاډ ورکوي. د هغوی راتلونکي تحلیل له مخې د ۲۰۱۵ عمومي ټاکنو کې مخالف ګوند مشره ګټونکې ده. د امریکا بهرنیو چارو وزیره هیلري کلینټن د ۲۰۱۱ ډیسمبر میاشت کې له برما څخه لیدنه وکړه او اعلان یې وکړ چې د هغې هیواد به په تېرو شلو کلونو کې خپل سفیر د برما لپاره وټاکي او په برما کې د ډیموکراتیکو اصلاحاتو ته په کتو پر برما په بندیزونو کې نرموالی راولي. د ۲۰۱۱/۴/۱ م په برما کې قسمي ټاکنې د ۴۵ چوکیو لپاره ترسره شوې چې د ان سانګ سوچي په مشرۍ ملي ډیموکراتیک ګوند ۴۳ چوکۍ وګټلې. له دې سره سره، د امریکا بهرنیو چارو وزیرې وویله، «اوس وختي دی چې په دې ورستیو میاشتو کې په برما کې د پرمختګ په تړاو قضاوت وشي او دا چې هغه

به دوام ولري»، (ای ایف في، ۲۰۱۱/۴/۲). په دې توګه د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې غوښتله پر برمایي رژیم نور فشار هم زیات کړي او د ټاکنیزې پروسې اعتبار یې تر شک لاندې راوست، ځکه نظامیان په ملکي جامو کې هیواد اداره کوي او د برما سیاسي صحنه مهاروي. هغه اساسي قانون چې د پوځ له لوري په نیویمو کلونو کې جوړ شو، په پارلمان کې یو پر دریېمه چوکۍ پرته له ټاکنو څخه د پوځ له لوري خلک ورته غوره کېږي.

له همدې امله امریکا په برما کې له سیاسي وضعیت څخه خوښه نده، که څه هم هغوی د مخالفې مشرې چې ګوند یې سیاسي فعالیت کوي په خوشي کولو سره پرمختګ وکړ. خو بیا هم امریکا پر رژیم باندې پرله پسې فشارونه راوړي او په ډاګه د هغوی اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي او د نورو فشارونه غوښتنه هم کوي، ترڅو پوځ چې برتانیې ته وفادار دی له واک څخه وپرځوي.

۹- له بل لوري، برتانیه د ملاتړي رول لوبوي، د برتانیې بهرنیو وزیر ویلیم هاګ هغه څه چې په برما کې پېښ شوه مثبت وارزول او ویې ویله، «برتانیه چې د برما خلکو یو ستره مرسته کوونکې ګڼل کېږي، چمتو ده چې په برما کې د سیاسي پروسې ملاتړ وکړي» (اسوشیټېد پریس، ۲۰۱۲/۴/۳). د ۱۹۶۲ کودتا راهیسې، د برتانیې لومړی وزیر ډېویډ کامرون تر ټاکنو وروسته لومړی غربي مشر و چې له برما څخه یې لیدنه وکړه او برمایي رژیم یې وستایه، «اوس دلته یو حکومت شته چې اصلاحاتو ته ژمن دی او په دې برخه کې یې ځینې ګامونه اخیستي دي او زه فکر کوم چې دا یو ښه وخت دی چې دلته راشئ او یاد اقدامات وهڅوئ»، (اسوشیټېد پریس، ۲۰۱۲/۴/۱۳). هغه د برما له ولسمشر تین سین سره وکتل. تین سین وویله، موږ ستاسې له ملاتړ څخه خوښ یو چې د ډیموکراسۍ او بشري حقونو ودې په موخه په برما کې له موږ سره کوي». نو برتانیه په میانمار کې له سیاسي وضعیت څخه خوښه ده او ملاتړ یې هم کوي.

۱۰- ۲۰۱۲/٦/۳ م کال کې، یوه ډله بودایانو پر هغه بس باندې برید وکړ چې مسلمانان پکې سپاره وو او نهه تنه یې ترې مړه کړه. له دې پېښې وروسته د بودایانو او مسلمانانو ترمنځ د کورونو سوځونه او جبري ایستنه پیل شوه او یادې پېښې دمسلمانانو ګڼو سیمو ته پراخې شوې او په لس ګونو زرو مسلمانانو له خپلو مېنو په کډوالۍ پیل وکړ. بنګله دیش له یادو تښتېدلو مسلمانانو له مرستې ډډه وکړه، هغوی یې بیرته ستانه کړه او د هغوی پرمخ یې خپله پوله وتړله. تېر کال په ورته فصل کې مسلمانان له ورته بریدونه سره مخ شوه او هیواد پرېښېدو ته اړ شوه. د لسیزو راهیسې هر کال هغوی د وژنې، بې ځایه کېدنې او کورونو څخه د جبري ایستنې سره مخ کېږي او همدا رنګه د متعصبو بودایانو له لوري چې د رژیم له ملاتړه برخمن دي د هغوی مېنې ویجاړېږي. غرب چې امریکا یې په راس کې ده، په برما کې د مسلمانانو ځورونې ته له پام پرته، د مخالفې مشرې خوشي کولو او دهیواد دیموکراتیک کولو هرکلی وکړ. د امریکا سفارت برما کې په یوه بیان کې وویل چې د امریکا شارژدافیر میکایل تورستېن په یانګون کې د مسلمانانو ځایي شورا او په اراکان کې د ملي دیموکراتیک ګوند سره جلا جلا لیدنې درلودې. تورستېن وویل، «اوس مهال تر ټولو مهم شی دا دی چې ټولې غاړې باید له ارامۍ څخه کار واخلي او زیاتو مذکراتو ته اړتیا شته چې باید ترسره شي په دې شرط چې ارامۍ شتون ولري». هغه زیاته کړه، «د امریکا

سفارت د برما حکومت هڅوي چې د پېښو څېړنه په داسې ډول ترسره کړي چې قانوني پروسې او د قانون حاکمیت ته پکې درناوی وشي» (اسوشیټیډ پریس، ۲۰۱۲/٦/۱۴). یاني امریکا هغه خلک چې له وژنو او جبري ایستنې سره مخ شوي وي سلا مشوره ورکوي چې ارام واوسي، د خبرو اترو لاره غوره کړي او د قانوني طرزالعملونو درناوی وکړي! ځکه هغه وژل شوي او بې ځایه شوي مسلمانان وو. خو کله چې ۲۰۰۷/۹/۲۰ م کال کې بودایي راهبانو لاریون وکړ او په برما کې د پوځي رژیم له لوري وځپل شوه، امریکا ږغ پورته کړ، اندېښنه یې څرګنده کړه او پر برما یې سخت بندیزونه ولګول او نورو غربي هیوادونو هم په ورتو اقداماتو لاس پورې کړ. له دې څخه ښکاري چې امریکا د مسلمانانو ځورونې په تړاو اندېښنه نلري او نه ورته پام کوي. سربېره پردې، امریکا د خپلو ګټو تامینولو او نفوذ پراخولو کې لیوالتیا لري او په ټوله کې دا د ټول غرب چې د مسلمانانو او اسلام دښمن دی دربځ دی.

۱۱- په لنډ ډول ویلی شو چې برما یې رژیم په تېر کې په مستقیم ډول نظامي یونیفورم لرونکو جنرالانو اداره کاوه او اوس هغه متقاعد شوي جنرال په ملکي جامو کې د برما رژیم اداره کوي. هغوی برتانیې ته وفادار دي، په هند کې برتانوي مزدورانو په پټه او ښکاره، مستقیم او غېر مستقیم ډول د هغوی ملاتړ کاوه. همدا رنګه برتانیې د مسلمانانو په وژنو او ځورونو کې نه یوازې په دې وروستیو کې، بلکې هغه وخت چې په یاد هیواد کې اسلام دولت له منځه ولاړ د بودایانو ملاتړ کاوه.

برتانیې د سیاسي تېرایستنې له لارې په برما کې نظامي رژیم په روسیه او چین کې کمونیستي چارواکو ته نژدې کړ، ترڅو د امریکا د برید پر مهال د هغوی ملاتړ ترلاسه کړي.

امریکا د ان سانګ سوچي د ملي دیموکراتیک ګوند ملاتړ کوي او ۱۹۹۱ کال کې یې هغې ته د سولې نوبل جایزه ور په برخه کړه، د هغې پلار انګ سانګ د برتانیې مخالف او ۱۹۴۷ م کال کې ووژل شو او مخالف ګوند د هغه په وژلو تورن شو. د هغې پلار ته د خپلواکۍ اتل په سترګه کتل کېده.

په برما کې د امریکا او برتانیې سیاسي مبارزې سره سره هم، هغوی دواړه د مسلمانانو په ځورولو کې د بودایانو ملاتړ کوي. غرب دمسلمانانو په تړاو له ادعا شوې خواخوږي پرته چې هغه هم کله تش بیانونه خپروي نور هیڅ نه کوي. خو غرب اعتراضونه کوي کله چې بودایي راهبان د سیالو بودایانو له لوري د پرلتونو له امله وځپل شي یا بندیان شي.

چین د خپلو اقتصادي او ستراتیژیکو ګټو لاسته راوړلو په موخه پرته له دې چې هلته سیاسي نفوذ ترلاسه کړي، د برمایي رژیم ملاتړ کوي.

د اسلامي نړۍ حاکمان د امریکا او په ټوله کې د غرب لاسپوڅي ګوډاګیان دي. هغوی په بشپړ ډول غېر فعاله دي، ان ګاونډي هیواد بنګله دیش د مسلمانانو، چې له سلو کلونو زیات وخت راهیسې له ځورونو او نسل جارو کونې سره مخ دي له ملاتړ څخه ډډه کوي. سربېره پردې، بنګله دیش نه یوازې د هغوی له مرستې څخه ډډه کوي، بلکې هغه کسان نیسي چې هلته پنا اخلي او د هغوی پر وړاندې پولې تړي. یاد حاکمان د دې پرځای چې د الله سبحانه وتعالی امر ته غاړ کېږدي،

**[وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ] [الانفال: ۷۲]**

«**که هغوی په دین کې له تاسې څخه مرسته وغواړي، ستاسې وجیبه ده چې د هغوی مرسته وکړي**» د امریکا او غربي هیوادونو مرستې ته وردانګي او خپل سرتېري د ملګرو ملتونو سوله ساتي ځواکونو تر نامه لاندې نورو جګړیزو سیمو ته لېږي.

د نیکو عملونو تمه له یادو حاکمانو څخه لېري ده، بلکې هغوی د شیطان لاره غوره کړې ده او یادو هیوادونو ته به تر هغه وخت امنیت رانشي تر څو خلافت راګرځېدلی نه وي. د خلیفه هارون الرشید په زمانه او درې نیمو پیړیو نورو کې مسلمانانو خلیفه ته پنا وړله او په هغه سره یې ځان ساته، ځکه یوازې خلافت خلکو ته امنیت چمتو کوي او په ټوله نړۍ کې خلک نیکو عملونو ته هڅوي او خلافت انشاالله رانژدې دی.

**٦ شعبان ۱۴۳۳ هـ.ق**

**۲٦ جون ۲۰۲۱ م**